د لوی او ښښونکي څښتن تعالی (جل جلاله) په سپېڅلي نامه

د افغانستان اسلامي امارت

**د لوړو زده کړو وزارت**

**میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه**

د افغانستان اسلامي امارت

**د لوړو زده کړو وزارت**

**کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون**

## د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې

## او

## کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنتون ترمنځ د ګډو همکاریو

# هوکړه لیک

کال: ............................................................................ ۱۴۴۵ هـ.ق مطابق ۱۴۰۲ ل.ل

# فهرست

سریزه:....................2
لومړی ماده: د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې مسؤلیتونه:....................2
دوهمه ماده: دوهمه ماده: د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون مکلفیتونه:....................3
دریېمه ماده: د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي او د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون ګډ مسؤلیتونه:....................3
څلورمه ماده: د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې او د کابل دښوونې او روزنې پوهنتون دګډ کار نتایج:....................4
پنځمه ماده:....................5

**سریزه:**

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د بنسټ ډېره د وخت د غوښتنوپه پام کې نیولو سره په ۱۳۹٦ هـ ش کال د زابل ولایت مرکز قلات ښـار په (۲) ناحیه، د ولایتي شورا پخوانۍ ودانۍ، مخابراتو ریاست ته څیرمه کې کنښښبودل شوه. په لومړي ځل په دغه مؤسسه کې د ښوونې او روزنې پوهنځي د څلورو څانګو (ریاضي، فزیک، بیولوژي او کیمیا) په لرلو سره په فعالیت پیل وکړ، چې بیا وروسته په کال ۱۳۹۸ هـ ش کال کې اقتصاد پوهنځي د ملي اقتصاد او اداره او تجارت څانګو په لرلو او په۱۳۹۹ هـ ش کال د کرهنې پوهنځي د دوو څانګو مالداري او باغداري په ورکړې سره تأسیس شوي او په ۱۴۰۰ هـ ش کال کې د شرعیات پوهنځي د امیرالمؤمنین شیخ هبت الله اخندزاده صاحب حفظه الله د ځانګړي حکم له مخې هم تاسیس شوه چې اوس مهال په دغه مؤسسه کې (۴) څلورپوهنځي فعالیت لري او استادان یې په بیلابیلو څانګو کې تدریس کـوي او خپل علمي فعالیتونه پر مخ وړي، تر دې مهاله په دې مؤسسه کې شاوخوا (۷۹۱) محصلین په زده کړو بوخت دي، او تر دې مهاله یې یوازې د ښوونې او روزنې پوهنځي څخه دوې دورې فارغان چې (۱۹۰) تنه کیږي، ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړې دي.

ښوونې اوروزنې پوهنځی د خپل لرلید په اساس هڅه کوي چې د سکتوري ادارو سره د دوه اړخیزه همکاریو پراخې اړیکې ولري.

دغه هوکړه لیک د(۴) څلورو مادو او (۲۳) فقرو په درلودلو سره د دواړو ادارو د باصلاحیته استازو دلاسلیک تر نیټې وروسته داعتبار وړدی.

**لومړۍ ماده: د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې مسؤلیتونه:**

1. د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د استادانو سره په ساحوي تحقیق کې همکاري کول.
2. د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون سیمینار (ورکشاپ) وړاندې کوونکو استادانو او اداري کارمندانو ته د ځای او ترانسپورت زمینه او خدمات برابرول.
3. د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د محصلینو سره په زابل کې د علمي سیر او تاریخي ځایونو څخه د لیدنې په وخت کې همکاري، لارښوونه او اړین خدمات ورته وړاندې کول.

## دوهمه ماده: د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون مکلفیتونه:

1. د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې په غوښتنه په خاصو برخو کې ارزونه تر سره کول.
2. د کادري غړو د ترفیعاتو له پاره د لارښود استاد ټاکنه.
3. د درسي مفرداتو د بیا کتني او پراختیا په موخه د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون د نصاب د تطبیق او څارنې د کمېټې په مشرۍ ګډې غونډې نیول.
4. د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې په غوښتنه د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون له خوا د پوهنځی او څانګو سره په موافقه د ځینو مضامینو له پاره د مرستندویه استادانو پېژندل.
5. د روزنیزو برنامو پلانول، ډیزان او عملي کول.
6. د میرویس خان نیکه زابل دلوړو زده کړو مؤسسې په غوښتنه د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون څخه د درسي موادو ورکول .
7. کابل ښوونې او روزنې پوهنتون له لابراتوار څخه د څېړنیزو موخو په منظور استفاده.
8. د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون په علمي ژورنال کې د استادانو د څېړنو او مقالو نشرول.
9. د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د کتابتون څخه استفاده.
10. د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون په ماستري برنامو کې ګډون کول، چې یاد پوهنتون به د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي استادانو ته په کال کې دوه فوق العاده د ماستري بورسونه ورکوي.
11. د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې اداري او تدریسي مدیرانو ته د (لوړو زده کړو وزارت مدیریتي معلوماتي) سیستم حضوري او انلاین روزنیز ورکشافونه ورکول.

## درېیمه ماده: د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې او د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون ګډ مسؤلیتونه:

1. په اکاډمیکو او اداري چارو او خپل منځي اړیکو کې متقابل احترام ته پوره ژمنتیا.
2. د هیواد او افغاني ټولنې د علمي، مسلکي او تخصُصي کادرونو د روزنې په موخه شته علمي او تدریسي تجربې او وړتیاوې یو له بل سره د ټاکلو طرزالعملونو او موافقو په اساس شریکول.

3. د تدریس د کیفیت او تحصیلي وضعیت د هر اړخیزې څېړنې، د راتلوونکو امکاناتو او مرستو د پیژندنې او د اړیکو د لا ټینګوالي په موخه، لږ تر لږه په هر سمسترکي یوه ګډه غونډه نیول.
4. د ګډو څېړنیزو پروژو له پاره زمینه برابرول کول.
5. د علمي مجلو د ایجاد، پر مخ بیولو او د یو بل په علمي مجلو کي د مقالو په خپرولو کي د ټاکلي طرزالعمل له مخي مرسته کول.
6. د یوه ټاکلي طرزالعمل له مخي د علمي ورکشاپونو، روزنیزو برنامو، کنفرانسونو او سمینارونو دایرول.
7. د یو بل له چاپ خانو او مطبوعاتی اسانتیاوو څخه ګټه پورته کول.
8. د ګډو علمي سیالیو، هنري، سپورتي او فرهنګي نندارو زمینه مهیا کول.

**څلورمه ماده: د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې او د کابل دښوونې او روزنې پوهنتون دګډ کار نتایج:**

1. کار پوه او مسکلي کادرونه د ټولنې او بازار له غوښتنو سره سم روزل او وړاندي کول.
2. په میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه او کابل دښوونې او روزنې پوهنتون کي داسي یوتحصیلي سیستم ایجادول چي هغه دافغانستان د تحصیلاتي نظام او اوسنیو ټاکل سویو هدفونو ته درسیدو لپاره زمینه سازي وکړي او دغه هدفونه په ښه ډول ورڅخه ترلاسه کړو چي هغه درې هدفونه په لاندي ډول ذکر سوي دي:

- روزنیز محوره نظام تقویه کول (ټرینګونه، ورکشاپونه، سمینارونه،ګډې مباحثي دفارمټونو تبادل).
- څیړنیز محوره تحصیلي نظام ( مرکې ،سروې ګانې، مشاهدې او تجربي ...).
- تولیدونکی نظام( په دي معنا چي موږ دغسي یو تحصیلي نظام ولرو چي په عمل کي تولیدوونکی وي او داړوند پوهنتونو لپاره او ځانونو لپآره عواید لرونکي کارونه جوړ او ایجادکړي).

## پنځمه ماده:

1. دواړه خواوې د هوکړه لیک د لاسلیک له نیټې څخه وروسته د اړتیا پر مهال د تعدیل (بیا کتنې،کمونې او زیاتونې) حق لري.
2. داړتیا پرمهال د تعدیل ( بیا کتنې،کمونې او زیاتونې ) لپاره باید دواړه لوري موافق وي.

الحاج روح الله «مشال»
میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس

د لاسلیک نېټه:
/ /۱۴۴۵هـ.ق
/ /۱۴۰۲ هـ.ل

شیخ الحدیث سید بشیر آغا «هاشمي»
د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون عمومي رئیس